## د پښتو ژبې د ودې لارې چارې

# یوه علمي مذاکره

### رپورټ

سېد عثمان سنجش



پښتو ژبه یو زړه تاریخي ژبه ده. دغه ژبه د ټولنې ټول ضرورتونه پوره کولې شي، پښتنو همېشه کوشش کړے دے چې خپله ژبه او پښتونولي ژوندۍ وساتي او تراوسه پورې ئې خپله ژبه نۀ ده بدله کړې دا چې په دې سیمه کښې د 35 نه تر 40 میلینو پورې پښتانۀ موجود دي، د دوې یووالے د سیمې د ثبات لپاره ډېر ضروري دے مګر د بده مرغه د تاریخ په اوږدو کښې دا ژبه د وخت د حاکمو طبقو لخوا د نظره غورځېدلې ده او حکومتونو دغې کار ته توجه نۀ ده کړې. دغه لړه ساه چې نن د پښتو په ژبه کښې پاتې شوې ده دا ټول د پښتنو د ادیبانو او شاعرانو د زحمت نتیجه ده. دغو ادیبانو د حکومت د سرپرستۍ اوهمکارۍ نه بغېر د پښتو ژبې کتابونه چاپوي او د خپلو راتلونکو نسلونو په خدمت کښې ئې وړاندې کوي.

انسانان یو د بل سره د خبرو په وسیله پېژندل کېږي او معرفت پېدا کوي . د ټولنې د تکامل بهیر په ژبه سره په مخ ځي، وده کوي او راتلونکو نسلونو ته استول کېږي . کۀ د یوې ټولنې څخه د هغوي ژبه واخستې شي نو د هغې ټولنې هویت له مینځه ځي او د پرمختګ ئې په ټپه ودرېږي . د ژبو یادونه د فرهنګي سرمایې په نامه شوې ده او ورته د ملي پنګې په سترګه کتل کېږي . کله چې په یوه ټولنه کښې د فرهنګ د ساتلو او د هغۀ د ودې خبرې کېږي نو دا په واقعیت کښې ژبه ده چې د ټولنې پرون او نن سره تړي او هغۀ ته وده ورکوي، دا ژبه ده چې راتلونکي ته لاره پرانزي . د یوۀ قوم څخه کۀ په خپله ژبه او یا د یوۀ فرهنګ څخه کۀ د خبرو ، لیکلو او لوستلو حق واخستل شي نو دا ظلم د وګړو په مینځ کښې د هغوي د طبیعي او انساني مناسباتو د شلولو معني ورکوي . د ژبو د تنوع مدافعان وائي چې د صلحې فرهنګ هغه وخت غوړېږي چې خلق ئې د خپلې مورنۍ ژبې په ړنا

کښې د هغهٔ ځخه ګټه واخلي او د هغې په روښنايۍ کښې د خپل طبيعي حق ځخه برخمن شي.

په دې حقله د باچا خان وينا ده « چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه تړې ورکه شي نو ورک شي » خدائي خدمتګارانو د باچا خان تر لارښوونې لاندې په کوزه پښتونخوا کښې د پښتو د ژبې د ژدکړې او ودې په حقله ډېر کوششونه کړي دي. باچا خان نهٔ يواځې په لرو پښتنو کښې بلکې په برو پښتنو کښې هم د پښتو ژبې د ودې لپاره جدوجهد کړے دے. هغه په خپلو مشالونو کښې وائي « يوه ورځ زهٔ د امان الله خان ملاقات له تللے وم، ډېرې خبرې مې ورسره وشوې په خبرو خبرو کښې مې ورته دا ووې چې تاله ترکي ژبه درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي خو خپله ژبه نهٔ درځي. زما خبرې په هغهٔ ډېر اثر وکړو او وعده ئې راسره وکړه چې زده کوم به ئې. کله چې له افغانستان نه واپس تل شو زهٔ بمبۍ ته د دهٔ ليدو ته ورغلم، نو هلته ئې ما سره پښتو کښې خبرې وکړې » د دې اصل په بنياد سره د باچا خان د کوششونو د لړې په دوام کښې د باچا خان ريسرچ سنټر د پښتو ژبې د ودې له پاره په دې کوشش کښې دے چې د پښتو ژبې د ودې لارې چارې ولټوي. په دې سلسله کښې د جولايۍ په ۱۶ کال ۲۰۰۸ کښې د باچا خان په ريسرچ سنټر کښې يوه مذاکراتي غونډه وشوه. د دې غونډې اصلي موخه په پښتونخوا کښې د پښتو ژبې د ودې لپاره د لارې چارې معلومول وو. په دې غونډه کښې محترم سعد الله جان برق، محترم سليم راز، ډاکټر يارمحمد مغموم، ښاغلے علي ګوهر، ښاغلے عزيزخان ملېزي، مېرمن نګهت ياسمين، ښاغلي محمد يار، پروفېسر عابد سلطان، ښاغلي روښان يوسفزي، ښاغلي شيرعالم شنواري، ډاکټر پروېز مهجور، ډاکټر اسرار، محترم اسرار د طورو، ښاغلي عامر ګمرياني برخه اخستې وه.



غونډه سحر ۱۱ بجې شروع شوه او د غرمې د ۲ بجو پورې ئې دوام ولرهٔ. د غونډې د کوربه فرائض ښاغلي خلان مومند تر سره کړل. په غونډه کښې هر يو برخه وال په ازاده فضا کښې خپل نظريات ځهٔ په دې ډول وړاندې کړل:

**سعد الله جان برق**: د دې مذاکراتي غونډې جوړېدل يو ډېر ښهٔ کار دے مګر د دې کار لپاره وړومبے بايد د پښتو ژبې لوستونکي پېدا شي کهٔ داسې وشي نو بيا به ورته اخستونکي خپله پېدا کېږي. دا ځکه چې زمونږ په معاشره کښې په موجوده وخت کښې په پښتو ژبه کښې تعليم نشته، دغه وجه ده چې زمونږ خلق په پښتو نهٔ پوهېږي. د دې په خاطر چې پښتو ژبه وده وکړي نو زما دا خيال دے چې وړومبے د ژبې په حقله په

شوي جهد وجهد یو نظر واچولے شي. کله چې د نېشنل پارټي حکومت په وړومبي ځل رامینځ ته شو نو افضل خان لالا او اجمل خټک صاحب د پښتو ژبې د ودې لپاره یو تنظیم جوړ کړو، مګر د دې کار او کوشش ټول د دروازي نه رابهر نهٔ شو. دوهم ځل دغه موقع بیا د فرید طوفان په کوشش سره رامینځ ته شوه او د ملګري لیکوال په نامه د یو بین الاقوامي تنظیم بنیاد کېښودو کوشش وکړے وشو مګر دې ټولو کوششونو هیڅ نتیجه ورنهٔ کړه. اوس د دریم ځل لپاره دغه موقع رامینځ ته شوه. په دې کښې باید په عملي شکل سره د ژبې لپاره کار وشي، کهٔ نن مونږه مذاکره وکړو او د دې د عملي کېدو لپاره کوم بنیادي کار ونهٔ شي نو هیڅ معني به ونهٔ لري.

**نګهت یاسمین**: تراوسه پورې د حکومت سرپرستي هیڅ نهٔ لیدل کېږي، استاذان لا په پښتو نهٔ پوهېږي، ترڅو پورې چې د استاذانو د پوهېدولپاره تجویزونه وړاندې نهٔ کړے شي دغه کار مشکل سره مخامخ کېږي. په ځنو ضلعو کښې اوس هم پښتو د تعلیم ذریعه ده خو هر چرته نهٔ ده. خصوصاً د جینکو په سکولونو کښې پښتو بېخي نهٔ شي ښودلے. دا د حکومت ذمه واري جوړېږي چې د دې تپوس پوښتنه وکړي.

**سلیم راز**: د پښتو ژبې تعلیمي کول کوم مشکل کارنه دی ځکه چې په ۷۳ قانون کښې ۲۵۱ ماده کښې د دې اختیار موجود دے، وروستو ۲۵۱ ماده کښې د دې صوبي خلقو ته د دې حق ورکړے شوے دے. دغه کار کوم نوي قانون ته ضرورت نهٔ لري. ترڅو چې د ملازمت ژبه پښتو نهٔ شي نو پښتو ژبه ترقي نهٔ شي کولې. پکار ده چې وړومبے ځوک چې ملازمت ته راځي باید دغه ژبه پاس کړي. د پښتو ژبې کتابونو چاپ کولو ته باید توجه وشي او په دې لړ کښې دې باچا خان مرکز هم کمک وکړي. ځومره ادارې چې پښتو رسالې چاپوي نو باید په هغوي زور راوړے شي چې لیکونکي ته دې معاوضه ورکړي، په پرنټ میډیا کښې د پښتو په حقله هیڅ نشته، پکار ده چې په دې اخبارونو باندې زور راوړے شي چې یوه پاڼه پښتو دې په هر اخبار کښې ضرور وي. په ټي وي هم باید د پښتو پروګرام ته زیات وخت ورکړے شي کهٔ حکومت په دې کښې دلچسپي اخلي نو دا کار کېدے شي.

**سعد الله جان برق**: محترم برق صاحب په پښتونخوا صوبه کښې د پښتو ژبې د ودې لپاره تجویز پېش کړو چې په سکولونو کښې چې ځنګه د نورو ژبو استاذان شته دغسې دې د پښتو ژبې دپاره هم استاذان مقرر کړے شي.



**یار محمد مغموم**: زهٔ د برق صاحب او ښاغلي سلیم راز د خبرو تائید کوم. د ژبې

پرمختګ لپاره يو عنصر حکومت دے، دوهم سرکاري سکولونه دي. وړومبے بايد دا پوښتنه وشي چې په دې سرکاري سکولونو کښې څوک پاتې دي، بلکه دا چې په پرائيوېټ سکولونو کښې په پښتو پابندي ده. زما په خيال دا د حکومت مسؤليت دے چې د دې کار لپاره مثبت ګامونه واخلي او په دې شکل سره د شخصي سکولونو سره بايد يوه معاهده وشي. د پښتو ژبې په حقله خپل تعصب له مينځه لرې کړي او د پښتو ژبې د ودې لپاره زمينه برابره کړي. د سرکاري سکولونو معيار بايد وچت کړے شي. ترڅو پورې چې حکومت سرپرستي ونۀ کړي پښتو ترقي نۀ شي کولې. لوستونکي، حکومت، ليکونکي سره جدا کېدے نۀ شي. بايد چې يوه کمېټي هم جوړه شي چې د اخلاقو نه پريوتي او خراب کتابونه بازار ته رانۀ شي. سياسي پارټۍ او حکومت له پکار دي چې د پښتو ليکونکو سره کمک وکړي.

**علي ګوهر**: زۀ بهر دنيا کښې د پښتنو په حقله کارکوم، د پښتو ژبې ترقي يوائې په کتابونو پورې اړه نۀ لري. مونږ له پکار دي چې د پښتنو ژوند، جامه، او کړۀ وړۀ خپل کړو ځکه چې د پښتو وده د حجرې او جومات نه شروع کېږي. مونږ له پکار دي چې مونږ خپل کلچر پرې نۀ ږدو او دا کلچر دنيا ته وړاندې کړو. مونږ له پکار دي چې ځان د رول ماډل په توګه پېش کړو. بايد چې پښتو د مارکيټ او بازار ژبه شي، حکومت له پکار دي چې د پښتو ژبې سرپرستي وکړي.

**عزيز خان ملېزے**: ژبې چې ارزښت ولري نو د نشت نه شتۀ شي. پښتو ژبه مضبوط پرېس نۀ لري. په برېښنائي مېډيا کښې د خپلې جڅې په قدر برخه نۀ لري. پښتو د تعليم ژبه نۀ ده، د ډوډۍ ګټلو ژبه نۀ ده، پکار ده چې د نورو ژبو خصوصاً انګرېزۍ، فرانسيسۍ، جرمنۍ او روسۍ ژبو نه سائنسي، سياسي، معاشي او فلسفيانه کتابونه په پښتو ترجمه کړے شي چې د ژبې لمن پراخه شي. خبرې ډېرې او سر ئې يو چې تر څو پورې پښتو ژبې ته سياسي سرپرستي حاصله نۀ وي نو د دې ژبې د ودې خبرې هسې دي.

**نګهت ياسمين** : هغه وخت پښتو عام کېدے شي کله چې په سکولونو کښې عام کړے شي. د سکول نه بغېر پښتو نۀ عام کېږي. په سکولونو کښې بايد پښتو يو لازمي مضمون وګرځول شي. څو څو ځله داسې فېصلې شوي دي خو بيا وروستو په هغې عمل ونۀ شي. پکار دي چې حکومت په دې لړ کښې خپلو شوو فېصلو باندې د عمل کولو جاج اخلي.

**عابد سلطان**: د نورو ژبو نه ترجمو ته بايد چې توجه وشي. يوائې ادب نه بلکې سوشل سائنسز ته هم ډېره توجه پکار ده. کۀ داسې وشي نو پښتو ژبه



به وده وکړي.

**روښان یوسفزے** : د خوشحالی ځائے دي چې باچا خان مرکز کښې دا کار تر سره شو. باچا خان د دې کار لپاره ډېر کوشش کړے ؤ، پښتو باید سرکاري ژبه شي، لیکونکي باید د سیاست نه جدا نهٔ شي. دوي ووې چې د پښتو دپاره د پاکستان ټیلي وژن اباسین چینل دې زر تر زره شروع کړے شي.

**عامر ګمریانے** : د پښتو ژبې په وروستو پاتې کېدو کښې د ټولو نه لوئے لاس د پښتنو دے، په دوي کښې د خپلې ژبې سره مینه نشته. هر بنده ټوله پړه په حکومت ور اچوي خو داسې نهٔ ده. دا د عوامو هم فرض جوړېږي چې پښتو ژبه خپله کړي. د پښتو ژبې د ودې دپاره ضروري ده چې په عامو پښتنو کښې آګاهي او شعور پېدا کړے شي او په دې غرض یو تنظیم جوړ کړے شي او ورله د پښتو د ودې لپاره فنډ ورکړے شي. دا وخت این جي اوز ډېرې پېسې ورکوي پکار دي چې د هغوي نه فائده واخستې شي.

**شیرعالم شینوارے** : زهٔ د باچا خان ریسرچ سنټر مننه کوم او دا تجویز پېش کوم چې په ۲۰۰۸ کال کښې دې په حکومتي سطح د عالمي کانفرنس اهتمام وشي، بل دا چې پینځم پورې کتابونه کښې د ژبې په حقله کوم خاص خبري نشته په دې نصاب کښې هم باید تغیر راوستل شي.

**ډاکټر اسرار** : د افسوس خبره ده چې مونږ په ۲۰۰۸ کال کښې د دې ژبې په حقله کار شروع کوو. د دې اصلي وجه سیاسي ده ځکه چې د دې لوستونکي نشته، زما په خیال چې د پښتو لوستونکي په دوؤ طریقو سېوا کېدے شي یو خو دا چې مونږ تعلیم په پښتو ژبه کړواو بل دا چې د بالغانو دپاره د پښتو ژبې د زدکړې پروګرام شروع کړو. حکومت له پکار دي چې په دې حقله مناسب ګامونه اوچت کړي.

**پرویز مهجور خویشکي**: حکومت له پکار دي چې یو لېنګوېج اتارټي قائمه کړي.

**اسرار طورو**: کومو ملګرو چې زما نه وړاندې په دې حقله تجاویز وړاندې کړل زما د هغې سره پوره اتفاق دے. پکار دي چې پښتو دفتري او سرکاري ژبه وګرځولے شي، په سکولونو کښې دې د لازمي مضمون په توګه ښودلے شي، په رېډیو او ټي وي دې ورله زیات وخت ورکړے شي. دوي ووې چې پکار دې مونږ خپل درخواستونه او خطونه په پښتو کښې ولیکو.

په اخر کښې ځلان مومند د غونډې د غړو له خوا پېش کړې شوي تجویزونه واورول. په دې موقعه د دې علمي مذاکرې د رپورټ جوړولو دپاره یوه کمېټۍ هم جوړه کړې شوه چې پکښې پروفېسر داور خان داؤد، ډاکټر پرویز مهجور، نګهت یاسمین او روښان یوسفزے شامل دي. دوي به خپل دغه رپورټ میاشت کښې دننه دننه باچا خان ریسرچ سنټر ته وړاندي کوي.

